ډیره اسماعیل خان: تي ټي پي ته یو بل ستر ګوزار دپولیسو له خوا د یو مطلوب تن په ګډون دوه تنه نور ترهګر ووژل شول

د ډیره اسماعیل خان په فتح موړ سیمه کې د ډي ایس پي په ګاډي د تي ټي پي ترهګرو برید کړی دی۔ د ډزو په تبادله کې د مطلوب ترهګر په ګډون دوه ترهګر وژل شوي دي۔



د تفصیلاتو ترمخه موټر سائیکل سورو ترهګرو د ډي ایس پي عابد په مشرۍ کښې د پولیس په پارټۍ حمله کړې چې پکښې د پولیس بروقت او موثر جوابي کاروائي په نتیجه کښې د تي ټي پي سره تعلق لرونکې بدنام او مطلوب ترهګر اقبال عرف بلي کهیړا د خپلو ملګرو سره وژلې شوې دې۔ ډي ایس پي عابد د برید په شنډولو کې د زړورتیا او عالي رهبرۍ مهارت ښودلی او د ډزو په تبادله کې لږ ژوبل شوي دي۔

د خیبرپښتونخوا پولیس زړور قیادت او زړور ځوانان د امن په راوستو کې مهم رول لوبوي۔ ټول ولس د ترهګرۍ پر ضد په دې جګړه کې د امنیتي ادارو په ځانګړې توګه د خیبر پښتونخوا د پولیسو د جرات او زړورتیا ستاینه کوي۔